محمد هارون خپل شعشعی


۲۴ می ۲۰۱۳

## «کندهار پاڼي» ته دوهم نظر

تر هر څه مخکي د« کندهار پاڼي » و چلوونکي، ښاغلی نور احمد خوشال، درنو همکارانو او ګرانو لوستونکو ته تاوده سلامونه وړاندي کوم. هیله لرم چي فرهنګي کار او مبارزه مو په مینه او متانت پر مخ درومي. دا دئ په دوهمه کتنه کي د اوولسمي ګڼي د ځینو برخو د لا ښه والي او پیاوړتیا په خاطر، خپلي ماتي ګوډي مشورې او نظریې در لیږم.

- د دې ګڼي پر لومړي مخ په غټو تورو لیکل سوي دي:« د یخي د کارخانو په ذخیره اوبو کي خلګ لمبیږي.»
په دې عنوان یا سرلیک کي باید دوو ټکو ته ټینګ پام وکو:

- اول ټکی دا دئ، چي د جوملو( جملو ) په نحوي جوړښت کي باید همېشه د خلګو شفاهي یا ګفتاري ژبه په پام کي و نیسو.« د یخي د کارخانو په ذخیره اوبو کي»، « د کندهار د پوهنتون په کتابتون/ کتابخانه کي»، « د افغانستان د بانک په تالار کي » او داسي نور ګرده د ګرامر له اړخه سمي او سهي جوملي دي؛ خو که د خلګو له شفاهي ژبي سره سمي وکښل سي، خوند او ښکلا یې تر دې هم ډېرېږي:« د یخي کارخانو په ذخیره اوبو کي»، « د کندهار پوهنتون په کتابتون/ کتابخانه کي»،« د افغانستان بانک په تالار کي » او داسي نور. د دغه راز جوملو په شفاهي بڼه کي دال همېشه حذفیږي.« یخي کارخانه »، « کندهار پوهنتون »، « افغانستان بانک » او داسي نور عبارتونه په خپل منځ کي و دال ادات ته اړتیا نه پیدا کیي.

- دوهم مهم ټکی دا دئ، چي« لمبیږي » باید په مجهوله یا اوږده یاءو نه لیکل سي. که څه هم د لمبېدو مصدر (لمبېدل) په مجهوله یاء لیکل کیږي. وینیږي، بیدیږي، خوښیږي او داسي نور جاري فعلونه ټول په دې ډله کي دي. د پښتو په ځینو لهجو کي هیواد، وزیر، راکیټ، هیڅ، غیر، بیرته، حیوان، فیوډالیزم او داسي نور د هېواد، وزېر، راکېټ، هېڅ، غېر، بېرته، حېوان، فېوډالیزم او داسي نورو په بڼه لیکي. موږ به په خپل لیکدود کي همېشه د هغي لاري پیروي کوو، چي په ویلو کي( کي یې ) سختي او مشکل و نه لرو. دا لار په معروفه یا لنډه یاء د دغه راز ټکو لیکل دي.

- په همدې مضمون کي راغلي دي:«... د خلګو له پاره یخي جوړوي». دا جومله غلطه نه ده؛ خو خلګ یې په خپلو ورځنیو خبرو او مرکو کي داسي وایي:« خلګو ته یخي جوړیي/ جوړوي». کله چي له چا څخه پوښتنه کوو،

داسي نه وايو:« دا کتاب د چا له پاره/ دپاره وړې؟!» بلکې وايو:« دا کتاب و چا ته وړې؟!» په داسي جوملو کي « ته » د « لپاره/ له پاره/ دپاره » مانا لري. په يوه بل مضمون کي کښل سوي دي:« ... بلکې لا د خلګو د روغتيا له پاره هم تاواني دي...» که د دې فقرې پر ځای داسي وکښل سي، خوند او ښکلا بې( به يې ) زياته او د خلګو و خوړې ژبې ته به ډېر نيژدې سي:« ... بلکې د خلګو و روغتيا ته هم تاواني دي.» يا« ... بلکې د خلګو و روغتيا ته هم تاوان لري.»

- د خوراکي پيداوارو/ محصولاتو په توليد کي د خلګو و روغتيا ته پام کول تر ټولو مهم او اساسي شرط دئ. که د يخي کارخانو مالکان پر جريمي/ جريمو سربېره هم په روغتيايي اصولو او لارښوونو کي رې نه وهي، بيا يې نو د موقتي او حتا دايمي بندولو پروا هم بايد و نسي؛ ځکه د ککړ يخي توليدول خو له ورايه د خلګو له ژوند او سلامتۍ سره د بازۍ کولو په مانا دئ. که مسوولين په ريښتيا هم د خلګو له ژوند او جوړوالي سره مينه لري، بايد د سرغړونکو په ټينګه مخه ونيسي.

- « پاکوالي ته پاملرنه نه وه کړه.» په دې جومله کي د پاملرنه ( پام + لرنه ) پر ځای يوازي « پام » ليکل کافي دي. پاملرنه مصدري ( لرنه ) لري؛ ځکه نو په جومله کي له بل فعل سره بې خوندي ښيي. تر دې مهمه خبره خو لا دا ده، چي زموږ خلګ هيڅکله پاملرنه نه وايي. هغوی همېشه د دې مخسد( مقصد) دپاره د « پام » ټکي وايي، چي په حقيقت کي د عربي« فهم » مفغنه بڼه ده؛ مثلاً خلګ وايي:« پر دوکان مي پام کوه!»، « پام کوه چي غوځار نسي!» او داسي نور. ما په لروبر پښتنو کي له هيچا څخه « پاملرنه » نه ده اورېدلي. که څوک و وايي: « درس ته پاملرنه ضروري ده. » يا د مشرانو امر و نهي ته پاملرنه ضروري ده. » په داسي جوملو کي پاملرنه بې خونده نه ښکاري.

- زه د دې يا هغه ليکوال تر شخصي او خود ساخته سبک د عامو خلګو له ژبې سره ډېره مينه لرم. په دې خاطر نو تر دې فقرې:« له خوا څخه داسي فيصله و سوه »

دا فقره: « له خوا داسي پرېکړه/ فيصله و سوه » اسانه او خونډوره ګڼم. په دغسي جوملو او فقرو کي « څخه » ته هيڅ ضررورت نه ښيبرېږي. ځيني ليکوال او ژورناليستان کاري: « زما په نظر باندي ... ». په داسي جوملو کي لاندي، باندي ته هيڅ حاجت نسته. « زما په نظر » په ټوله مانا پوره او رسا عبارت دئ.

- په يوه عنوان کي ګڼه ګونه استعمال سوې ده. تاسي حق لرئ دا ټکی ووایاست او و ليکئ؛ خو ببروبار هم هيڅکله له نظره مه غورځوئ؛ ځکه زموږ خلګ تر ګڼه ګونه، ببروبار ډېر کاريي. ځيني جاهل« سوچه پال » د پارسي توب په ګونا د « ببروبار» له کارولو څخه ټټه کيي؛ خو خبر نه دي، چي « ببروبار » په واقعيت کي د هندي « بهير+ بار » اوښتي بڼه ده. که« ببروبار» پارسي هم وای، له کارولو څخه يې مخ اړول، هيڅ علمي اساس نه لري. هدف دا دئ، چي د ژبې ټولي اصيلي او دخيلي کليمي بايد په خبرو او ليکنه کي ژوندۍ وساتو. خلګ/ اولس/ وګړي، جنګ/ جګړه، بحر/ درياب/ سمندر، سيند/ رود، ګهيځ/ سهار، ونه/ درخته او داسي نور ټول زموږ د ژبي ارزښتناکه لغوي سرمايه ده، چي په هيڅ بيه يې بايد له لاسه ور نه کو. په دغه راز مترادفو يا متقاربو ټکو کي بايدو هغه يا هغو ټکو ته د لومړيتوب حق ور کو، چي په خلګو کي ډېر استعماليږي.

- « د يادو کارخانو. » ستاسي پر اونيزه سربېره د ډېرو نورو ژورناليستانو په خبرونو او مقالو کي هم د « ياد » ټکی خورا په پېخر ليدل کيږي؛ خو زموږ خلګ يې هيڅکله په دغه مفهوم ( د ضمير په توګه ) نه استعماليي. موږ « ياد » کليمه په داسي جوملو کي وايو:« په ياد يې که! / در ياد يې که!»، « وطن مي يادېږي/ مور و پلار مي يادېږي » او داسي نور. په ليکنه کي د مخکي ياد سوو کسانو يا شيانو دپاره خلګ همېشه هغه/ هوغه، هغې/

هغوی، دغه/ دوی ضمیرونه استعمالیږي؛ ځکه« یاد » خو د « هېر » ضد دئ. همېشه باید په همدې مفهوم استعمال سي.

- موږ اوریځ، اولس، اولسوالي، اوږه او داسي نور په دې ډول وایو؛ ځکه یې نو په دې ډول و هم باید لیکو.

- « نوموړو ځایونو کې» سهي نه دئ. پر ځای یې باید« په هغو ځایو/ ځایونو کې » ولیکل سي. نوموړی/ نومړی د پښتو په لرغوني ادب کې د نامتو، نامي،نامدار، نامَور، نوموتي او داسي نورو په مانا راغلئ دئ. دا کلیمه اوس په دې ډول کارېږي: « پلاني په سخاوت او مړاني کې نوم وړئ دئ. » په معاصرو اثارو کې استعمال د پارسي « نامبرده » تحت الفظي ترجمه مالومېږي. زما په نظر، د « نومړي/ نومړو» پر ځای د هغه یا هغو استعمال اسانه او معقول دئ؛ مثلاً: ده و ویل / هغه و ویل، دې و ویل/ هغې و ویل، دوی و ویل/ هغوی و ویل، دغه کسان/ هغه کسان او داسي نور. کله چي لرغوني ټکي په نوي مفهوم کاروو، باید پخوانی ماناوې یې هم له یاده و نباسو. تاسي وګورئ « مرسته » په زړو ادبیاتو کې هر ځای د هیلې، طلب، غوښتني، اشتیاق، آرزو، ارمان، لېوالتیا او داسي نورو په مانا کار سوې ده؛ خو نن یې پخوانی مانا ته ګرسره پام نه کېږي. ځیني خو یې له پخوانیو ماناوو سره اصلاً اشنایي هم نه لري. حتا د افغانستان د علومو اکاډیمی د پښتو- پښتو تشریحي قاموس د دغې برخي لیکوال هم په دې ډله کې دئ. داسي کلیمې په پښتو ادب کې خورا ډېري دي.

- په تېر بحث کې مو پر دې مسأله خبري وکړې، چي بېځایه غټ عکسونه، نه ورځپاڼي یا اونیزي ته ګټې لري او نه هم لوستونکو ته. د یخي کارخاني په مضمون کې پورتنی عکس ښکلی او خوندَور، خو لاندنی نارنجي عکس تر ضرورت زیات غټ دئ. نیمایي برخه یې کافي وه.

- په تېر بحث کې مو د جغرافیایي نومو د سهي املا په اړه هم لنډې خبري وکړې. دا مو و ویل، چي د هیواد ټول جغرافیایي نومونه باید په هغه بڼه ولیکل سي، چي د خلګو په ورځنیو خبرو او محاورو کې جال دي. د دې اصل له مخي باید« د دالي بند» هم د « دهلي بند» په بڼه و نه لیکل سي. د دالي بند او ور تلوونکو مېله والو د خوندیتوب په باره کې ستاسي اندېښني ښځي معقولي او پر ځای دي. ښاریان او مسوولین دواړه باید و دې ارزښتناکي مسألي ته ټینګ پام و کي.

- یو ځای « د کارخانو شمېره » کښل سوې ده. زه تر دې عبارت د کارخانو شمار یا شمېر ښه بولم.

- دا جوملہ چندان خوندوره نه ده:« ځیني مارکېټونه د دې سره سره چي د موټرانو د درېدو له پاره ځایونه نه لري ...» لنډه، ساده او اسانه بڼه یې داسي ده:« که څه هم ځیني مارکېټونه د موټرانو د درېدو ځایونه نه لري ...» په داسي جوملو کې« که څه هم » تر« سره سره » ډېر واضح او خوندَور ایسي. په ځینو جوملو کې د« سره سره » پر ځای « سربېره » هم راتلای سي. زموږ ځیني لیکوال « پرته » کلیمه هم خورا ډېره او بې خونده استعمالیږي؛ مثلاً وایي: پرته له دې څه کولای سو؟ پرته له دې څه لرو؟ له احمد پرته واده ته څوک راغلي وه؟ » د دې جوملو پر ځای باید داسي و وایو:« بې له دې څه کولای سو؟ »، « غیر له دې څه کولای سو؟ »، « بې له دې څه لرو؟ »، « غیر له دې څه لرو؟»، « بې احمده یا غیر له احمده واده څوک راغلي وه؟» زموږ خلګ خو « پرته » په بل مفهوم وایي:« خدای دې مخ پرته کي، د هیچا په درد نخوري.»، « خداي دي مخ پرته که همېشه د کار پر وخت ورک سې!» دلته « پرته کېدل » د کرکې، کهښت او ښرا مفهوم بیانیي. موږ باید « پرته » تل په دغه مانا او مفهوم استعمال کو. که نه نو خلګو ته به مو لوی سرخوړی پېښ کړئ یي.

- په سوونو زره افغانی. د د ې پر ځای « په لکو افغانی » لنډه او مستعمله بڼه ده. زموږ رسمي متون زیاتره په پارسي ژبه لیکل کېدل او تر اوسه لیکل کیږي. په پارسي کې همېشه د لک پر ځای « صد هزار » کاږي. « لاکھ

» اصلاً هندي ټکی دئ، چي د پښتو او دري دواړو په اولسي محاورو کي پراخ استعمال لري. دا چي په رسمي او مطبوعاتي پاړسي کي نه کاريي، د دوی خپله خوښه، خو موږ بې هيڅکله په پښتو ليکنو کي له پامه نه غورځوو.

- خلګ د اسانی او روانی د اصل له مخي د کليمو په جوړښت کي ډول ډول تصرفونه کيي. ځيني ړغونه د دروندوالي په وجه ښېخي له منځه باسي؛ لکه دونه( د دونده مخففه بڼه )، درنه( د درنده لنډه بڼه )، ګرسره( د ګردسره اختصاري بڼه )، لو( د لويه مخففه بڼه)؛ د ځينو مخرجونه او ړغونه اليشيي لکه خرج/ خرچ/ خرڅ، سېلاب/ سېلاو، کوشش/ کوښښ؛ د ځينو موقعيتونه مخ او شا ته بيايي؛ لکه روخ/ ورخ، سولاغه/ سلواغه ، مځکه/ ځکمه، کښته/ ښکته او داسي نور. په داسي شرايطو او حالاتو کي به موږ کمه لار اخلو؟ بېله شکه به د لنډوالي، سادګی او اسانی لار اخلو. دونه، درنه، ګرسره تر دونده، درنده او ګردسره ساده او اسانه دي.

- د « بدماشی » استعمال مي خوښ سو. د دې مفهوم دپاره په پښتو کي د « لوچګی » ټکی هم کارولای سو. بدماش او بدماشي د خلګو په خبرو او مرکو کي خورا ډېر کارېږي؛ خو له اولسي دود او فرهنګ څخه بې خبره ليکوال يې په ليکنو کي له کارولو څخه کښښت کيي؛ خو« بدماشياني » خونډَور نه برېښي. بد + معاش= بدمعاش = بدماش. اسم يې « بدماشي » ده، چي جمع يې« بدماشی» کيږي. دا خبره هم بايد هېره نه کو، چي بدماش او بدماشي غوندي ترکيبي ټکي بايد هيڅکله جلا جلا و نه ليکل سي؛ ځکه بد او ماش په ګډه يو مشترک ټکی جوړ کړئ دئ، چي په جلا کېدو سره يې مشترک مفهوم نه پاتيږي.

- ډېره ښه خبره مو کړې ده، چي ښاروالي يا نور چاروکي دي و هغه چا ته د نوو ودانيو جوړولو اجازه نه ورکيي، چي په نخشه کي د پارکينګ په شان ضروري اسانتياوي نه يي ځای سوي؛ خو په عمل کي ګورو، چي ښاروالي او نوري اداري د بېلابېلو عواملو له مخي و دې زرين اصل ته هيڅ ارزښت نه ور کيي. دليل يې ټولو افغانانو ته روښانه دئ. د افغانستان خپلسري واکمنان خو پر پارکينګ سربېره په ډېرو نورو مسألو کي هم هيڅ مشکل نه لري. هر څه چي و غواړي، د موري زوی يې مخه نسي نيولای. له دې اسيته نو د ښاري ژوند د دې مهمي او اساسي مسألي د حلولو په مخسد و دوی ته تمه کول د وخت ابته کول دي. په ښار کي د موټرانو د خوندي پارکينګ دپاره بايد ملي سوداګرو ته بلنه ور کړل سي، چي د ښار په مزدحمو سيمو کي عصري پارکينګونه جوړ کي؛ او له دې له لاري نه يوازي خپلو ښاريانو، بلکي خپل جېب ته هم ګټه و رسيي.

- د کجکي بند د احتمالي حملې په اړه مضمون هم په زړه پوري دئ. په مضمون کي د حکومت او طالبانو ادعاوي په ښه ډول بيان سوي دي. د ميديا مسووليت او رسالت هم دقيقاً دا دئ، چي په خپلواکی او ناپېيلتوب د ښکېلو خواوو دريځونه روښانه کي. دا د خوشالی ځای دئ، چي طالبانو د اعلاميي په خپرولو سره پر کجکي بند د بريد کولو اوازې رد کړي دي؛ خو پاکستان، ايران او هر بل شيطاني دولت يا سازمان هيڅکله زموږ د بندونو او نورو ارزښتناکو اقتصادي تأسيساتو پر ورانولو صرفه نه کيي. په دې دليل نو دا نه يوازي د امنيتي مسوولينو، بلکي د دې ګډ تاريخي کور د هر اوسېدونکي ملي او وطني وجيبه ده، چي د بريښنا بندونو، پلونو، لارو، روغتونو، مکتبو، پوهنتونو او داسي نورو تأسيساتو کلکه ساتنه وکي. دا تأسيسات د دې هيواد د ببوزلو او کړېدلو خلګو مال دئ. ساتنه او ژغورنه يې د هر افغان سپېڅلی جهاد ګڼل کيږي.

- ځارنوالي دي د ماليي وزير او وکيلانو دوسيي سمي وڅېړي! تر دې په زړه پوري او خواږه عنوان لاندي په « اولسي جرګه » کي د ماليي وزير، زاخېلوال، د استيضاح بشپړ رپوټ چاپ سوئ دي. په خواشينی سره ليکوال د قضيي د بېلو بېلو اړخو د دريځو په باره کي هيڅ نه دي ويلي.که څه هم د موضوع په اړه د ځينو شنونکو او

ماهرانو نظریو تر ډېره ځایه دا خلا ډکه کړې ده. بېځایه نه ده چي زه هم له فرصت څخه په استفاده د دې موضوع پر ځينو اړخو خپل نظر وکاږم:

- د زاخېلوال له خوا د ځينو « وکيلانو» د جرمي عملو رسوا کول معقول او ګټور کار ؤ؛ خو دا کار بايد هيڅکله د هغه مړانه او غښتلواله و نه بلل سي؛ ځکه د جرم او خيانت رسوا کول، له مجرمينو او خاينانو سره قانوني چال چلن، د دولتي اراکينو قانوني او وظيفه يي مسووليت دئ. له زاخېلوال څخه مهمه پوښتنه دا ده، چي د ظاهر قدير، حميدزي لالي، سميع الله صميم او نورو له جرمي عملو يا غيرقانوني غوښتنو څخه يي ولي اوس پرده پورته کړه؟! تر اوسه پوري يي ولي پر خوله مهر لګېدلئ ؤ. په بله وينا دا بالفعل يا بالقوه سرغړونکي ولي همغه وخت پر رسوا کولو او شرمولو سربېره د قانون و منګولو ته نه دي سپارل سوي؟! د داوود سلطانزوی خبره ريشتيا ده، چي وايي: که د « استيضاح » خبنم او کسات نه وای وزير صاب به تر اوسه دا ککړ او کرغېړن نومونه پټ ساتلي وای. بله اساسي پوښتنه دا ده، چي په ټول هيواد کي يوازي دغه شپږ - اووه « وکيلان » په غلا، غصب، قاچاقو او نورو غيرقانوني فعاليتو کي ښکېل دي؟! ايا له ظاهر قدير او حميدزی لالي څخه چا تر اوسه پوښتنه کړې وه، چي دا دونه پيسي او موټرونه مو له کمه ځايه پيدا کړل؟! واقعيت دا دئ، چي له حامد کرزي څخه تر چپړاسي پوري د دولت زياتره واکمنان په پسات( فساد ) کي ډوب دي. کله چي د دولت لوړ رتبه اراکين خپله په غلا، بډو اخيستلو، قاچاقو او نورو کرغېړنو معاملو کي فعاله ونده و لري، د نورو مجرمينو او سرغړونکو مخه به څوک نيسي؟! ميليونونه جريبه دولتي مځکي غصب سوي او غصبيږي؛ خوهيڅ غاصب ته تر سترګو پورته هم نه دي کتل سوي؛ ځکه د دولت لوړ رتبه اراکين او په هغو پوري تړلي زورواکان په غصب، غلا، رشوت او کمېشن اخيستلو، قاچاقو او نورو تورو معاملو کي لاس لري. چا اروېدلي دي، چي پلانی وزير، معين، سفير، والي، جنرال يا بل ښامار د پلاني جرم او خيانت په تور د قانون و منګولو ته وسپارل سو؟! حامد خان کرزی خپله په لکه غاړه ناري وهي، چي له ايراني اخوندانو او سي. آی. اې. څخه په کڅوړو او بکسو کي لکونه او ميليونه ډالر تر لاسه کيي. دا مو هم وليدل، چي همدې تش په نامه اولسي جرګي يوه ورځ د دفاع او کورنيو چارو پخوانييو وزيرانو، عبدالرحيم وردګ او بسم الله محمدي، ته د نه باور رايه ورکړه. حامد خان سبا دستي و همغو نالايقو، فاسدو او ککړو وزيرانو ته د امير امان الله خان مډالونه ورکړل. څو ورځي لا نه وې تيري سوي، چي همغه رد سوئ او شړل سوئ خيالي بسم الله جان يي د دفاع وزير په توګه د رايي اخيستلو دپاره و« اولسي جرګې » ته معرفي کئ. د ارياني او تعجب وړ خبره ده، چي همغي« اولسي جرګې » دا پلا تر پخوانۍ وظيفي په لوی او مهم مسووليت کي د باور رايه ور کړه. معامله ګري، خيانت، پستي او وجدان خرڅول خو څه ښکرونه او لکی نه لري. دا يي له زرو مثالو څخه فقط يو مثال دئ. لنډه دا چي دا حکومت، شورا او قضا ګرده هيڅ په هيڅ کي هيڅ دي.

- « اولسي جرګه د ټولوغړو د شل سلني(۵۰ تنو ) په وړانديز، کولای سي... » دا جوملـه خوندَوره او روښانه نه ده. بايد پر ځای يي داسي و ليکل سي: « اولسي جرګه په سلو کي د شلو غړو( ۵۰ کسانو ) په غوښتنه کولای سي...» سلنه او وړانديز دواړه بې خونده او ناوړه جعليات دي.

- په سرمقاله کي پر ډېره مهمه موضوع خبري سوي دي. ليکوال په پاخه استدلال و ډېرو ارزښتناکو ټکو ته اشاري کړي دي؛ خو ځيني کوچنی ادبي کمزوری يي دا دي:

- « کني نو د سرغړوني په صورت کي به قانوني چلند ور سره وسي.» په دې جومله کي« د سرغړوني په صورت کي » عبارت اضافي يا زايد دئ. پر ځای يي بايد و ويل سي:« کني/ که نه نو قانوني چلند به ور سره

وسي.» که مفهوم په لنډو ټکو افاده کېدای سي، هيڅکله به غيرضروري ټکي نه ور زياتوو. موږ بايد په پښتو ليکنه کې د نورو ژبو د جمله بندۍ، عبارتو او کليمو هو به هو پيروي و نه کو.

- « ... نه په خپله دغو ارګانو دغه ستونزه جدي نيولې ده.» په دې جوملې کې « نيولې ده » د پاړسي « جدی ګرفتن » تحت الفظي ترجمه ده. موږ و تاسي جدي وايو، خو « جدي نيول » هيڅکله نه وايو.

پر ځای يې ډول خونډَور راځي:

نه دغو اورګانو و دې ستونزي ته ټينګ پام کړئ دئ.

نه دغو ادارو و دې مشکل ته جدي توجه کړې ده.

د پاړسي، هندي، تورکي، اوروپايي يا نورو ټکو په استعمال کې هيڅ عيب او مشکل نسته. په دې شرط، چې د پښتو ګرامر او پښتني دود و بايدې مطابعت وکي.

- « په افغانستان کې دننه» دا عبارت د هندي او اوردو تحت الفظ ژباړه ده. هغوی وايي: « افغانستان کې اندر »، « ايک مهينې کې اندر » او داسي نور. کله چې د « کې » ظرفي ادات استعمال کو، بيا « دننه » غوندي قيد ته هيڅ اړتيا نسته. « په افغانستان کې/ کښې » بالکل سم او کافي دئ.

- په سرمقاله کې پر ښې موضوع خبري سوي دي؛او وروستی برخه ( نتيجه ګيري ) يې خونډَوره ليکل سوې ده.

- د ولولې جاني سفرليک مې ولوستئ. خدای دې له تنهايي څخه وساتي. په ليکنه کې د مورنۍ ژبې د اسانۍ او خوږوالي نخښې ډېري ليدلې کيږي؛ خو کله کله يې د بې خونده رسمي او مطبوعاتي ژبي ناوړه ټکو او عبارتو خوند ډېر پيکه کړئ دئ؛ مثلاً په يوه برخه کې کاږي:«. . . بيا موږ څومره په زده کړه کې پاته راغلي يو او ټوله يې د جګړو د نه بسني لامل و ګرځول.» د جوملې مفهوم او هدف د بې خونده جمله بندی او بېځايه الفاظو په وجه ورک دئ. زما په ګومان د ولولې جاني مخسد دا دئ، چې موږ څونه/ څومره په زده کړه کې وروسته يا تر شا پاته يو؛ او دا ټول يې د پرله پسې جګړو نتيجه و بلله. په دې جوملې کې« پاته راغلي » په حقيقت کې د هندي او اوردو ژبو د« پيچهې رهګيا» تحت الفظي ژباړه ده. په طنزو، لنډو کيسو، ناولو او داسي نورو تخلقيي اثارو کې بايد د شفاهي ژبې رنګ ډېر روښانه او برجسته و ساتل سي. که څه هم سفرنامې يا سفرليکونه د طنزو، کيسو او ناولو په ډله کې نه راځي؛ خو سره له دې هم د شفاهي يا ګفتاري ژبې استعمال کولای سي هغو ته تخلقيي او هونري رنګ ور کي؛ او د يو وچ او بې خونده راپور له چوکاټه را و باسي.

- که څوک « زمامداران » کاږي، هرومرو يې بايد په « ز » وليکي نه په « ض ». که څه هم د دې ټکي پر ځای واکمنان، چارواکي، واکداران، حاکمان هم کارولای سي. موږ کولای سو، چې ځيني عربي، پاړسي او داسي نور ټکي له خپل تلفظ سره سم په پښتو تورو وليکو؛ خو دا حق نه لرو، چې د خپلې يا بلې ژبې لغتونه او عبارتونه په عربي بڼه وکاږو.

- « ضروري » کليمه هيڅکله له ژبې مه پردی کوئ. ټول خلګ وايي: ضروري کار يا ضروري خبره لرم. موږ ته هم نه ښايي، چې له پامه يې و غورځوو؛ او ځای يې و نورو کليمو ته پرېږدو.

- په دې ورځو کې « په ورته وخت کې » عبارت خورا ډېر ګورم.« ورته » په دې عبارت کې د پام وړ مانا نه افاده کيي. اول خو دا ډول عبارتو ته هيڅ اړتيا نسته. که اړتيا پيدا هم سي بيا نو « له دې سره جوخت »، « په عينِ حال کې »، « په دې وخت کې » او داسي نور تر « ... ورته وخت ... » رسا او اشنا دي.

- دا ښه خبره ده، چې په تعليمي او تحصيلي ادارو کې بايد همېشه د درس د ښه والي، نظم او انضباط په اړه فکر و سي؛ خو دا ښېګڼي تر هغه مهاله نسي تر لاسه کېدای، چې مسايلو ته انتقادي کتنه و نسي. د تعليمي او تحصيلي

بهير کتنه، له استادانو او شاګردانو سره خبري اترې، د يوې انتقادي کتني اساس او تاداو دئ. د دې استدلال له مخي نو په مناسبو وختو کي و رسماً ګومارل سوو خبرلايانو او فرهنګيانو ته د مسلکي کار او فعاليت امکانات برابرول، نه يوازي پر ځای، بلکي ضروري کار دئ.

- بېلابېل يا بېل بېل په حقيقت کي يوه کليمه ده. په منځ کي هايفن ته حاجت نسته.

- « د فقر کولو هنر» هم پر خورا مهمي موضوع خبري کړي دي. مضمون په ډېره استادي شرو سوئ دئ. دا خبره يي هم بالکل پر ځای ده، چي له پردو فقيرانو څخه د جاسوسی دپاره استفاده کيږي. البته، د مالوماتو په ټولولو کي له فقيرانو، موټروانانو، چوکيدارانو، دوکاندارانو، نرسانو، ډاکټرانو او داسي نورو کسانو څخه کار اخيستل، د جاسوسی کلاسيک ډولونه دي، چي زموږ په هيواد کي اوس خپل پخوانی ارزښت نه لري؛ ځکه اوس خو د دولت مزدور مشران او کشران ټول د پردو په نوکری او جاسوسی کي ولاړ دي. متأسفانه مضمون په وروستی برخه کي يو څه پيکه سوئ دئ. پيکه په دې مانا، چي ليکوال د فقر د مخنيوي د علمي او عملي لارو چارو پر ځای د دولتي دستګاه د پسات او بې کفايتی پر بل اړخ خبري کړي دي، چي ټولي يي پر خپل ځای معقولي او دقيقي دي. زما په نظر که په دې مضمون کي د افغاني ټولني د فقر او بېوزلی پر بېلو بېلو عواملو هم څه رونړا اچول سوې وای، د مضمون له قوت او پوخوالي سره يي نوره هم مرسته کوله. تاسي ته مالومه ده، چي افغانستان د طبيعي زېرمو، زيارکښو خلګو، نوښتګرو فکرو او سرشارو استعدادو له پلوه ډېر شتمن هيواد دئ. زموږ د خلګو بېوزلي په واقعيت کي د دې هيواد د فاسدو او غيرعادلانه سياسي نظامو او رواني ځو دېرش کلني تېل سوي جګړې محصول او معلول ده. تر هغه وخته چي په هيواد کي د روان تحميل سوي جنګ د ختمولو او ټولنيز عدالت د تأمين دپاره اساسي او ريښتيني کار و نسي، لوږه، بېوزلي، اقتصادي او اجتماعي ناخوالي زموږ د ټولني نه بېلېدونکي برخه ده؛ خو په داسي حالاتو کي به د فقر مخنيوی څنګه ممکن يي، چي د تېل سوي پردي جنګ پر لمبو تر ګرده پېلوزي لوېږي؛ د جاسوسانو، غلو، غاصبانو، رشوتخورو او مافيايي ډلوټپلو پر ښکاره چور او چپاو سترګي پټيږي؛ او بېوزلو افغانانو ته د پټمن کار او فعاليت په مخسد هيڅ عملي اقدام نه کيږي؟!

- « دا مهال د ښار پر واټونو تر ډېره هغه خير غوښتونکي په لوږه کچه تر سترګو کيږي چي اصلاً افغانان نه دي.» په دې جومله کي « په لوږه کچه » اضافي دئ. ساده، اسانه او خوندَور شکل يي زما نظر داسي دئ:« دا مهال د ښار پر واټو/ واټونو تر ډېره هغه فقيران يا خير غوښتونکي تر سترګو کيږي، چي اصلاً افغانان نه دي.»

درنو عزيزانو!

د ټولو مضامينو و مطالعي ته مي بيا هم وخت پيدا نه کئ؛ خو د لوستو مضامينو له مخي په خوشالی او ډاډ سره ويلای سم، چي« کندهار پانه » د ترقی او پرمختګ چټک ګامونه اخلي. د دې بهير د لا چټکتيا په خاطر بايد ز موږ ژورناليستان، ليکوال او څېړونکي لا ښې او دقيقي ليکني وکي. ښې او دقيقي ليکني څه ته وايي؟

- ښه او دقيقه ليکنه و هغي ليکني ته وايي، چي پر حقايقو ولاړه يي. د حقايقو مانا دا ده، چي په ليکنه کي پر تشو ادعاوو، دروا‌غو، تومت او بهتان تکيه نه يي سوې. په يوه پسي ناحقه ځراغ راخيستل او د نورو پر ښکاره جرمو او خيانتو پرده اچول د خپلواک، بې پرې او رسالتمن ژورناليست کار نه دئ.

- د ښې ليکني بل اړخ دا دئ، چي په ساده، اسانه او خوږو ادبياتو ليکل سوې يي. اسانه او خوږه ژبه د خلګو ژبه ده. زموږ د کوڅه والو او کليوالو ژبه، د خلګو ژبه ده. که ساده جومله ليکو يا مرکبه او مخلوطه، په هر حالت کي بايد د فصاحت او بلاغت تر چوکاټ و نه وزو. په خبرو او ليکنه کي فصاحت او بلاغت دا غوښتنه کيي، چي په پټو سترګو د نورو د نامعقولو او بې خونده جعلياتو پيروي و نه کو. اړيکه نيول، اړيکه اخيستل، لوړ پوړي

چارواکي، ترینګلي حالات، پخلی کول، یاد کسان، یو شمېر خلګ، څانګوال، ستاینوم، اړونتکی او داسي نور هیڅکله و نه وکارو. د خوړي او پخي لیکني بل خصوصیت دا دئ، چي لوستونکو ته د جوملي د مبتدا او خبر په موندنه کي سرخوږی پېښ نه کو. لوستونکو ته د جوملو د مبتدا او خبر په پېژندلو کي هغه مهال سرخوږی او تکلیف نه پېښیږي، چي جوملي لنډي او بامانا یي. د یوې جوملي په منځ کي د نورو اوږدو او پېچلو متعرضه جوملو کتارول، همېشه له لوستونکو څخه لار او ګودر ورک کيي. په لیکنه کي دي د مردودو او زموخته لغتو پر ځای د استدلال و پوخوالي ته ډېر پام وسي.

- په اونیزه کي دي د ښار د ځینو ضروري مؤسسو او ادارو د تلیفون نومری چاپ سي.

- د اونیزي د تېراژ زیاتولو دپاره دي د بېلابېلو اعلانو و خپرولو ته هم پام و سي.

- اونیزه باید د ځوانو استعدادو روزنه او پالنه هم له یاده و نباسي. د پوهنتونو او مکتبو شاګردانو ته د ذهني او فکري پرمختګ امکانات برابرول باید د اونیزي د نشراتي سیاست مهمه برخه یي.

- د اونیزي ځیني ګڼي دي په منظم ډول د هیوادو و نورو ولایتو او حتا کښته پښتنو ته هم و لېږل سي. تر څو ټول افغانان پوه سي، چي کنداریان څه ډول لیکني کيي. له معقولو اړخو څخه یي ګټه واخلي؛ او نامعقول اړخونه یي په خپلو سالمو او پیاوړو نظریو سم کي.

بالاخره د ملي او تاریخي ورځو د لمانځني دپاره دي د خاصو ګڼو اهتمام وسي.

دمګړی همدونه.

ګران افغانستان ته مو د خدمت په لار کي د لا زیاتو پرمختګونو هیله کوم.

هارون